سر یال نمبر: 418

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ


یووالی، ایمان، انضباط

دملت غږ

# بنو؛ ټي ټي پي د نجونو د ښوونځي له سوځولو وروسته دوديز منافقت ته مخه کړي

په دې وروستيو کې د بنو په ممبتي بارکزی سيمه کې د ټي ټي پي خوارج د نجونو سکول ته اور ورته کړ او د ښوونځي د ديوال چاک کولو وروسته وتښتېدل او ګواښ يې وکړ چې که سکول پرانستل شي نو ناوړه عواقب به ولري۔







د خلکو له سخت غبرګون سره مخکيدو وروسته، نن د ولايت بنو په نامه د دغه جرم نه انکار کړی او د غندنې يوه اعلاميه خپره کړه، چې د دغو خوارجو د منافقت ښکاره ثبوت دی او دا چې دا جنايت د دوی په امر ترسره شوی دی۔ د تحريک طالبان پاکستان مرکزي مشرتابه د دغه جرم د پټولو يوه ناکامه هڅه ده۔

خلک له دغو خوارج څخه پوښتنه کوي چې:

- که په رښتيا هم هغه په دې جرم کې لاس نه لري، نو د غندنې په بيان کې يې ځلور ورځې ولې تېرې کړې او د ټي ټي پي مرکزي مشرتابه يې ولې بيان نه دی جاري کړی؟
- د دې خوارجو ستر عالمان د ښځو زده کړې ته په کوم نظر ګوري، چې ذکر ي په دغه بيانيه کې کړی دی۔
- آيا دې خوارجو په سوات او نورو سيمو کې د ښځو پر تعليم او حقونو د بريدونو تور تاريخ هېر کړی دی؟

د پاکستان خلک دغو خوارج ته ښکاره پيغام ورکوي چې له اسلام او علم سره د دوی په دښمنی ښه پوهيږي۔دا د جاهليت پيروان پرون هم د علم له رڼا څخه وېرېدل او نن هم د علم او پرمختګ دښمنان دي. د دوی بشپړ له منځه وړل به د سولې او ثبات او روښانه مستقبل ضمانت دی، ان شاءالله۔